# د څېړنې لنډ راپور

## د افغانستان منازعه او پخلاینه

(د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه)



د سولې لپاره د اړیکو ګروپ
او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د ۱۴۰۱ ل.ل اوړی

د سولې لپاره د اړیکو ډله
گروه تماس برای صلح
Contact Group for Peace

د نوي نسل او ځوانانو دسولې جرګه
جرگه صلح نسل نو و جوانان
Youth & New Generation Peace Jirga

# د څېړنې لنډ راپور

## د افغانستان منازعه او پخلاینه

(د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه)

---

د سولې لپاره د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د ۱٤۰۱ ل.ل اوړی

---


www.contactgroup.af
info@contactgroup.af , ycg4peace@gmail.com

# لړلیک


۱. لنډيز ........ ۳
۲. د څېړنې مسئله ........ ۳
۳. د څېړنې ادبیاتو ته کتنه ........ ٤
٤. د څېړنې میتود ........ ٦
٥. د څېړنې معلومات ........ ٦
٦. د څېړنې د معلوماتو ارزونه ........ ۷
۷. پایله ........ ۱۱
۸. وړاندیزونه ........ ۱۳
۸,۱. د سیاسي لارې نقشه ........ ۱۳
۸,۲. سیاسي جوړښت ........ ١٤
۸,۳. سیاسي واک ترلاسه کولو څرنګوالی ........ ١٤
۸,٤. متوازن پرمختګ او په عادلانه ډول د ملي شتمنیو څخه ګټه اخیستل ........ ١٥
۸,٥. فقهي او د دارالافتاء عالي شورا ........ ١٥
۸,٦. له ګاونډیو، سیمې او نړۍ سره اړیکې ........ ١٥

## ۱. لنډيز

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، چې « د افغانستان منازعه او پخلاينه؛ د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه» تر سرليک لاندې، د کيفي منځپانګې تحليل په ميتود ترسره شوې ده، په وروستيو دوو لسيزو کې د افغانستان د سولې هڅې د وخت د حکومتونو، د امريکا متحده ايالتونو او د ملګرو ملتونو د سولې ماموريت لخوا د طالبانو اسلامي تحريک سره پر مخ وړل شوي دي. د افغانانو په اړخ کې، د سولې بهير په حکومت کې شامل ټکنوکراټانو، جهادي تنظيمونو او يا هم د هغوی استازو او د طالبانو اړخ د نوي نسل او ځوانانو له اغيزناکه ګډون پرته پر مخ وړل کيدې. د افغانستان نوي نسل او ځوانانو په (۱۳۹۰) کې د افغانستان ځوانانو ملي کنفرانس څخه بيا په (۱۳۹۱) کې د افغانستان ځوانانو د سولې جرګې پورې او بالاخره د سولې لپاره د ځوانانو د اړيکو ګروپ[1] تر جوړېدو (۱۳۹۸ تر اوسه) پورې په ۳۰ ولايتونو کې د «نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې» او د سولې غوښتلو غونډو، ناستو، کنفرانسونو په جوړولو، د اعلاميو په خپرولو او په رسنيزو ناستو کې د ګډون له لارې په هېواد کې د «سولې او ثبات» ټينګښت لپاره هڅې کړي دي.

د څېړنې له معلوماتو داسې جوتيږي، چې د نوي نسل او ځوانانو غوښتنو کې «د خبرو او سياسي هوکړو له لارې د جګړې حل، ټول ګډونه سياسي نظام رامنځته کيدل، اوربند او په بشپړ او تل پاتې ډول د جګړې پايته رسيدل او د تل پاتې سولې ټينګښت، د ټول ګټو بنسټونو له ورانيدو مخنيوی او د پوځي بنسټونو، اداري نظام او ملکي ادارو ساتل، له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ، د ټولنيزو، اقتصادي او سياسي لاسته راوړنو په څير د وروستيو دوو لسيزو لاسته راوړنو خونديتوب، د وګړيو په ځانګړي ډول د ښځو حقونه، د مطبوعاتو او رسنيو خپلواکي، د سولې بهيرونو څخه څارنه او د نړيوالو مالي ملاتړ دوام شامل دي .

په هېواد کې پراخو سياسي بدلونونو ته په کتو، نوی نسل او ځوانان وړانديز کوي، چې د سولې ټينګښت «تل پاتې سوله او دوامداره ټيکاو» لپاره، اسلامي امارت د نورو اغيزناکو خوځښتونو، نوی نسل او ځوانان او د افغانستان ښځو سره په سلا مشورو او ګډه پريکړه، «د سولې خبرو نوی بهير پيل او ټول ګډونه، ځواکمن، دوامداره او ځواب ويونکي حکومت جوړولو نوښت» تر لاس لاندې ونيسي.

## ۲. د څېړنې مسئله

افغانستان د خپلو بدلونونو د تاريخ په زياته برخه کې، له بهرنيو يرغلونو او کورنيو جګړو څخه رنځ وړی دی. په وروستۍ نيمه پيړۍ کې؛ د افغانستان د پخواني شاه محمد ظاهر شاه حکومت پر وړاندې د سردار محمد داوود خان کودتا (۱۳۵۲ ل.ل) سره، له هېواد څخه نسبي سولې او ټيکاو، ټولنيز جوړجاړي او همپالنې کډه وکړه. د دې پيښې وروسته؛ د مشروعيت مسئلې، د سياسي نظام جوړښت، د حکومتوالۍ ډول، په واک او پريکړو کې د ګډون ميکانيزم، بهرنې مالي، پوځي او سياسي تړاو يا ملاتړ او په افغانستان کې د تاوتريخوالي دوام، د واک پر سر د شخړو د دوام لامل شوی دی. کله ناکله يوه جګړه پايته رسيږي، خو تر هغه توده جګړه پيليږي.

---

1. چې مخکې د «سولې لپاره د ځوانانو د اړيکو ګروپ» په نوم يې فعاليت کاوه؛ د اړيکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه او همکارانو د سلا او پريکړې پر بنسټ، د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ – د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵ د سياسي او پوځي بدلون وروسته، د «سولې لپاره د اړيکو ډله» په نوم مختصر شو.

له بلې خوا په وروستۍ نیمه پېړۍ کې؛ د افغانستان د سولې هیڅ کومه هڅه (له جینوا تړون څخه بیا د دوحې د سولې تر هوکړې) په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینګښت لامل نه ده شوې. په وروستیو شلو کلونو کې؛ د افغانستان د سولې بهیرونه په حکومت کې د ښکیلو ټکنوکراټانو، جهادي تنظیمونو او یا د هغوی استازو او طالبانو اړخ سره پر مخ وړل شوي، خو که څه هم نوي نسل او ځوانانو په بېلابېلو برخو کې د پرمختګونو سربېره، په پرېکړو او د سولې بهیرونو کې ګډون نه درلود او د هغوی نظرونو او غوښتونو ته د پام وړ پاملرنه نه وه شوې. له دې سره سره، له حکومتي پروګرامونو بهر نوي نسل او ځوانانو په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره زیاتې هڅې کړې او ځانګړې غوښتنې لري.

په لنډ ډول؛ له یوې خوا د افغانستان جګړه او سوله؛ د ښکېلاک، د مشروعیت بحران، د سیاسي نظام او جوړښــــت ډول، پــه پرېکړو کې د ګډون میکانیزم، د حکومتوالۍ ډول او مــالي تړاو پــه محور کې «د افغانستان جګړه او سوله» په ورانونکیو او وژونکیو خونړیو شخړو تبدیل کړې او له بلې خوا د افغانستان د سولې ناکام بهیرونه د ګرداب په څېر ورستۍ نیمې پېړۍ حکومتونه ډوب کړې او د افغانستان پر خلکو یې بې شمېره ستونزې تپلې دي.

څنګه مو، چې د مســـئلې په بیان کې وویل، تر اوســـه هم د افغانســـتان جګړه په بنســـټیز ډول پایته نه ده رسیدلې. له همدې امله دا پوښتنې لا تر اوسه نه دي حل شوي، چې څنګه د افغانستان جګړو ته د پای ټکی کېږدو؟ د افغانستان د وسله والو جګړو، خونړیو شخړو او اوږدمهاله کړکیچ د پایته رسیدو حل لاره څه ده؟ د افغانستان د سولې ناکام بهیرونو کومې لوړې او ژورې لرلې او کومو اړخونو د سولې په هڅو او پرېکړو کې ګډون درلود؟ په وروستیو دوو لسیزو کې نوي نسل او ځوانانو افغانستان کې د سولې راوستو لپاره کومې هڅې ترسره کړې دي؟ د نوي نسل او ځوانانو له انده، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامۍ لاملونه کوم دي؟ بلاخره، تل پاتې سولې او دوامداره ثبات راتلو په موخه د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو نیوکې، غوښتنې او وړاندیزونه څه دي؟

## ۳. د څېړنې ادبیاتو ته کتنه

هره علمي او پر اکاډمیکو اصولو ولاړه څېړنه، اړتیا لري، څو د څېړنې ادبیاتو ته یوه کتنه وشي. له همدې امله په دې مبحث کې دې پوښتنو ته ځواب مومو، چې د سولې څېړل څه دي؟ منازعه او پخلاینه له کومو ځانګړتیاوو او علمي چوکاټ کې د څېړنې او ارزونې وړ ده؟ بلاخره د څېړنې معلوماتو لپاره د نظري چوکاټ او د تحلیل میتود موندلو لپاره پلټنه کوو.

د سولې په برخه کې څېړنه، په نورو برخو کې د څېړنې په څېر ځانګړې پوهه، میتود او مهارت ته اړتیا لري. د سولې مطالعاتو څخه موخه هغه ټولې هڅې، فعالیتونه او اقدامات دي، چې د سولې مفهوم، په هېوادونو کې د سولې شرایط او وضعیت او په هغه ټولنو کې، چې منازعه شتون لري، په لاره اچول کیږي. ( حسرت، ۱۳۹۲: ۱۹۶)

د سولې په برخه کې څېړنه، میتود، مفاهیم، نظري بنسټونو، لیدلوري او موډلونو ته اړتیا لري، چې د هغو په کاروني سره د سولې مطالعاتو پروژې او پروګرامونه پیل او سرته رسیږي. علمي مفاهیم او اصطلاحات، چې د ســـولې مطالعاتو په برخه کې کارول کیږي، په واقعیت کې هغه تول د څیرنو د موندنو پیژندلو لپاره وسیله ګڼل کیږي.(Erin McCandless, 2007:85)

د سولې مطالعاتو کې د منازعې او سولې ترمنځ مخامخ اړیکې شتون لري. د یوه څیړل اړتیا لري، څو بل هم وڅیړل شي. له همدې امله اوس د «منازعې» او «سولې» مفهومي چوکاټ او د تحلیل موډلونه څیړل کیږي.

منازعه؛ د تضاد، تعارض، اختلاف، تاوتریخوالي، شخړه، فتنه، جګړه او کشکمش په مانا یاده شوې ده. (دهخدا، ۱۳۲۵: م) خو د سولې مطالعاتو په ادبیاتو کې د منازعې لغات زیات کارول کیږي. منازعه هغه مهال راتوکل کیږي، چې د خلکو، ډلو او دولتونو د لیدلوري، کړنو او غبرګونونو ترمنځ اختلاف او تضاد رامنځته شي. په دې څیړنه کې «وسله واله منازعه» زیاته کارول شوې ده، وسله واله منازعه د واک ترلاسه کولو او پلې کولو او د واک په مناسباتو کې د زور کارولو په موخه یوه لاره ده. د نړیوالو بشرپالني حقوقو له انده وسله واله منازعه څلور عنصره لري: د جوړښت او تشکیلاتو عنصر (دولتونه، بنسټونه او ډلې)، مادي عنصر (د واک پلې کول)، معنوي عنصر(قصد او نیت) او بلاخره موخه لرل دي. (بیګدلي، ۱۳۹۴: ۲۲-۲۱)

د سولې مطالعاتو څیړونکي، لکه یوهان ګالتونګ له منازعاتو څخه درې ضلعي انځور په وړاندې کولو: الف. اختلافونه، ب. لیدلوري. ج. کړنو، سره هڅه کوي، څو روښانه کړي، چې سوله څه ده. ( Galtung, 1973:16) نو په دې توګه د اختلافونو (تناقض)، لیدلوري او له تاوتریخوالي ډکې کړنې یوه منازعه په بشپړ ډول رامنځته کوي. د یوهان ګالتونګ د تفکر پر بنسټ، هیڅ کومه پدیده او وضعیت نه شي کولای، چې د لاملونو او ځانګړي شرایطو پرته رامنځته شي.

ســـوله د جوړجاړي، پخلاینې، مهرباني، د منازعاتو حل او هغه هوکړه، چې پر بنســـټ یې یوه دعوا حل او فصــل کیږي. (معین، ۱۳۸۷: ص) ســوله د اســلام په مبارک دین کې د خلکو له منځ څخه د کرکې له منځه وړلو، د منازعې د بنــکیلو اړخونو ترمنځ جوړجاړی، د فســاد دفع او همدې ته ورته مســائلو ته اشــاره کوي. څښتن تعالی(ج) د نساء سورة په ۱۲۸ آیه کې فرمایي: و الصلح خیر...؛ په سوله کې خیر دی.

نظریه ورکوونکیو بیلابیلو ځانګړتیاو ته په پام، سوله یې د مثبته سوله، منفي سوله، وسله واله سوله، غښتلي سوله، عادلانه سوله، ریښتینې سوله، با ثباته سوله، ولسواکه سوله، تل پاتې سوله، دایمي سوله، او پایښت لرونکې سوله ویشلې دي. همدارنګه د قلمرو ځانګړني ته په کتو، سوله په نړیواله سوله، سیمه ییزه سوله او هیوادنۍ سوله ویشل شوې ده.

د سولې نظري چوکاټ، چې په دې څېړنه کې يې په لټه کې يوو، پايښت لرونکې سوله ده. پايښت لرونکې سوله، عملي مفهوم او عملي کړنو پورې اړونده ده. په دې مانا، چې پايښت لرونکې سوله، له منازعاتو څخه د تيريدو لپاره د عملي اقداماتو ترڅنګ، پر دوه اصـــولو؛ حکومتوالی او پیاوړتیا له نورو څخه زيات ټينګار کوي (Peck, 1998: 15)

پخلاينه او د پایښت لرونکې سولې ټينګښت په درې محورو او پړاونو کې: الف، د سولې راوستل، ب. د سولې ساتل، ج. د سولې جوړول د ارزونې او څېړنې وړ دي. د سولې راوستل؛هغه بهير دی، چې د منازعې د اړخونو او شخصيتونو ترمنځ هوکړه او روغه جوړه رامنځته کوي. د سولې ساتل؛ د څارنيزو کړنلارو او د سولې سياسي هوکړې پلې کولو اړوند هوکړو ته ويل کيږي، چې د مخامخ او فزيکي تاوتريخوالي مخنيوی کوي. د سولې جوړول؛ د سولې راوستلو په بهير کې مهمه برخه ده. د سولې جوړول فزيکي، جوړښتي او فرهنګي تاوتريخوالی له منځه وړي. يو شمېر څېړونکي «د سولې جوړولو» ته «د منازعاتو حل» هم وايي.

## ٤. د څېړنې ميتود

د دې څېړنې معلومات په مختلط؛ په کتابتون او هم په ميداني ډول را ټول شوي دي. د دې څېړنې وګړي، په ۳۰ ولايتونو کې د افغانستان نوی نسل او ځوانان دي او د څېړنې معلومات د نمونه اخيستلو موخه ايز ميتود له لارې له ۱۱۲۸۶ کسانو څخه، چې ۸۲۳۵ تنه يې نارينه او ۳۰۵۱ تنه يې ښځينه دي، چې عمرونه يې له ۱۸ – ۳۵ کلونو ترمنځ وو، را ټول شوي دي. نوي نسل او ځوانانو څخه موخه هغه مدني – سياسي فعالان دي، چې د ۲۰۰۱ کال تحول وروسته په افغان ټولنه کې راپورته شوي او په سوله ايز ډول مدني – سياسي مبارزو ته يې مخه کړې ده. په بل عبارت، نوی نسل او ځوانان په واک کې د ښکيلو ټکنوکراټو سياستوالو، جهادي تنظيمونو او د هغوی له استازو او د طالبانو اسلامي تحريک له کټګورۍ څخه بهر دي.

د دې څېړنې معلومات د منځپانګې کيفي ارزونې ميتود له لارې تجزيه او تحليل شوي دي. دا څېړنه د منځپانګې ارزونې له ميتود څخه په ګټې اخيستنې، لومړی مفاهيم تعريف شوي، دويم، معلومات ډلبندي شوي، دريم، ځانګړتياوې مشخصې شوي، څلورم، نمونه اخيستل شوي، او بلاخره، د څېړنې موندنې د اړيکو د ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه له يو شمېر غړيو سره د ډله ايزې مرکې له لارې ملاتړ او پياوړي شوي دي.

## ٥. د څېړنې معلومات

د افغانستان منازعه او پخلاينه؛ د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنې معلومات د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو، د سولې غوښتلو غونډو له پريکړه ليکونو او ګروپي مرکو څخه را اخيستل شوي دي. پرېکړه ليکونه د غوښتنو او دريځونو د څرګندولو لپاره يوه نوې وسيله ده، چې د هغه ټولنيزو او سياسي فعالانو لخوا کارول کيږي، چې سوله ايز ليدلوری لري. په دې مبحث کې، د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او

سولي غوښتلو پریکړه لیکونه، او په هیواد کې نوي سیاسي بدلون(د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ - د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵) ته په کتو؛ ګروپي مرکې تحلیل او ارزول شوي دي.

د اړیکو ګروپ د خپلو موخو ترلاســـه کولو لپاره، د هېواد په ۳۰ ولایتونو کې لســـګونه جرګې، د سـولې غوښـتلوغونډې، کنفرانسـونه او مطبوعاتي ناسـتې، لاریونونه او د همغږۍ ناسـتې جوړې کړې دي. د یادولو وړ ده، چې دغه ټول پروګرامونه د دې څېړنې اړوند نه دي او په دې څېړنه کې یوازې د ۲۳ جرګو، چې په بادغیس، بامیان، بدخشان، بغلان، بلخ، پکتیا، پکتیکا، تخار، جوزجان، خوست، سمنګان، غزني، غور، فاریاب، فراه، کندز، کندهار، کونړ، لوګر، ننګرهار، نیمروز، هرات او هلمند او د سـولې غوښـتلو ۸ غونډو، چې په اروزګان، زابل، سرپل، کابل، لغمان، میدان وردګ او نورستان ولایتونو کې جوړې شوي دي، ارزول کیږي. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتلو غونډو ګډونوال د زدکړو، جنسیت، عمر او ولسوالی ته په کتو په کاري کمېټو ویشل شوي وو. د کمیټو غړیو په خپلو کاري کمېټو کې د سولې په هکله د اوو مشـخصـو پوښـتنو په اړه (۱. د سـولې په بهیر کې د افغانسـتان ا. ج دولت ځخه د نوي نسـل او ځوانانو غوښتنه، ۲. د سولې په بهیر کې د طالبانو اسلامي تحریک ځخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنه، ۳. د سولې په بهیر کې له نړیوالې ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو، اســـلامي هیوادونو او ګاونډیو هیوادونو ځخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنه، ۴. د سولې بهیر په پریکړو کې د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه مشارکت او د ګډون ځرنګوالی، ۵. پایلې ته د بین الافغاني مذاکراتو رسـولو په اړه د نوي نسـل او ځوانانو وړاندیزونه او د هغوی مسولیت، ۶. د ناځرګنده سیاسـي راتلونکي په اړه د نوي نسـل او ځوانانو نظرونه؛ د اوسـني وضـعیت ځخه د وتلو حل لاره، ۷. په ځایي او ملي کچه د ســـولې له بهیر ځخه د ځارنې ځرنګوالي په اړه د نوي نســـل او ځوانانو وړاندیزونه) بحث او خپل نظرونه شریک کول. په پای کې ټولو کمیټو د سولې په تړاو خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه د یوه ګډ پریکړه لیک په چوکاټ جوړ او وړاندې کړي دي.

له کومه ځایه، چې پورته پوښتنې د څېړنې د پوښتنپاڼې په چوکاټ کې نه، بلکې د بحث او ارزونې په موخه جوړې شوې وې او له بل لوري د ګډونوالو اندونه او لیدلوري د پرېکړه لیکونو په چوکاټ کې راغلي دي، نو د پورته پوښتنو لپاره کمي ځواب ممکن نه دی. په دې توګه د پورته پوښتنو ځوابونه د سولې جرګو او غونډو پرېکړه لیکونو د منځپانګې د ارزونې میتود کې ارزول شوي دي. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونو په اړه معلومات د ۱۳۹۸ د زمري له ۳۱ مې تر ۱۴۰۰ د زمري تر ۹ پورې راټول شوي دي، ولې د ګروپي مرکو په اړه معلومات د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ – د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵مې له سیاسي بدلونونو وروسته راټول شوي دي.

## ٦. د څېړنې د معلوماتو ارزونه

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونو منځپانګه کې درې موضوع ګانې شاملې دي. ۱. د نوي نسل او ځوانانو انسجام، ۲. د نوي نسل او ځوانانو نیوکې او ۳. د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې.

په هیواد کې د تلپاتي سولې او دوامداره ثبات لپاره د نوي نسل او ځوانانو انسجام، اجماع او همغږي د جرګو او د سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونو له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي، چې د بیلابیلو ولایتونو په پریکړه لیکونو کې راغلي دي. دویمه موضوع، چې د نوي نسل او ځوانانو د جرګو او سولې غوښتلو غونډو له پرېکړه لیکونو څخه تر لاسه کیږي، د نوي نسل او ځوانانو نیوکې دي، چې په کې 1) د سولې د مذاکراتو او پریکړو په بهیر کې د نوي نسل او ځوانانو (له حکومت او جهادي تنظیمونو څخه بهر) د استازو پر نه شتون نیوکه، 2) د جمهوریت په لوري کې د مرکچي پلاوي پر جوړښت، نه همغږي، ګډوډي او پروګرام نه شتون، ځان غوښتنه او د ګټو پر پاللو نیوکه، 3) د طالبانو اسلامي تحریک لخوا د وخت پر ضایع کولو، نرمښت نه لرلو او د ډول ډول افکارو پر نه منلو نیوکه، 4) د سولې مذاکراتو په بهیر کې د شخصي، ګوندي او ډله ایزو ګټو پر پاللو نیوکه، 5) د سولې بهیر او مذاکراتو کې د ښکیلو اړخونو لخوا د نرمښت پر نه څرګندلو نیوکه، 6)خلکو باندې د جګړې پر ناوړه اغېزو نیوکه او 7) د سولې په هوکړو او د مذاکراتو بهیر پر نه روښانتیا نیوکه) شاملې دي.

دریمه موضوع، چې د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو له پریکړه لیکونو څخه تر لاسه کیږي. د وخت له حکومت، د طالبانو اسلامي تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو، اسلامي، سیمې او ګاونډیو هېوادونو څخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې دي، چې په کې (۱. د خبرو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو حل، ۲. په هېواد کې اوربند او په تل پاتې ډول د جګړې پایته رسیدل، ۳. د ټول ګټو بنسټونو خوندیتوب، ۴. د ټول ګډونه نظام او دولت څخه ملاتړ، ۵. له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ، ۶. د وروستیو دوو لسیزو له لاسته راوړنو ملاتړ، ۷. د ښځو حقونه، ۸. د سولې له بهیر څخه څارنه او راپور ورکول، ۹. له نړیوالې ټولنې سره د همکاریو، مالي ملاتړ او اړیکو دوام) شامل دي.

له بلې خوا په هېواد کې وروستي سیاسي بدلون (د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ – د ۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵) ته په کتو، د ډله ایزو مرکو اړوند معلومات، د «مرکه کوونکي» په توګه د دې څېړنې د ارزونکي او «مرکه شـــویو» په توګه د سولې لپاره د اړیکو د ډلې او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه یو شمېر غړیو ترمنځ د ۱۴۰۱ کال د چنګاښ له ۱۳ څخه د ۱۴۰۱ کال د زمري تر ۹ پورې په ګروپي ډول ترسره شوي دي.

په دې مرکو کې هڅه شوې، څو د شپږو موضوع ګانو په تړاو (۱. په دوحه کې د سولې بهیر د ناکامی لاملونه، ۲. په افغانستان کې د اوږدمهاله منازعاتو او د واک پر سر د شخړو لاملونه، ۳. د واک پر سر شخړو کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت ونډه، ۴. د واک پر سر شخړو دوام او فرهنګي تاوتریخوالي کې د قوم، مذهب او ژبې پاللو ونډه، ۵. د افغانستان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت پخواني استازي زلمي خلیلزاد سره د اړیکو ګروپ د مشرتابه یو شمېر غړیو د ناستې په اړه معلومات او ۶. په افغانستان کې د تل پاتې سولې او تیکاو تینګښت) په اړه د هغوی نظرونه پوښتل شوي دي.

د مرکه شویو له انده ، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر ناکامۍ لاملونه (ځنډې ته د وخت حکومت او نورو سیاسي اړخونو کیدل، د وخت حکومت ناسمه محاسبه، د طالبانو تحریک او امریکا استازو ترمنځ د سولې اړوند اطلاعاتو ته کمه لاسرسي، د بهیر ناوړه مدیریت او د جمهوریت په اړخ کې د نه همغږۍ شتون، د جمهوریت غوښتونکیو لخوا مرکچي پلاوي ته د واک نه ورکول، په دوحه کې د مذاکراتو د وخت ضایع کول، پر جګړې د ښکیلو اړخونو ټینګار او د جګړې زیاتیدل، په ریښتیني ډول د نړیوالو او سیمه ایزو لوبغاړو نه همکاري، د طالبانو اسلامي تحریک سرسختي او نرمښت نه ښکاره کول او د انتقالي او توافقي حکومت له جوړولو څخه ډډه) دي.

د مرکه شویو په اند، له ۱۳۵۷ ل.ل کال راهیسي د بیلابیلو لاملونه له امله لکه: د بهرنیو ایدیولوژیو تپل، د بنسټ پالنې شتون، له بهرنیانو سره د افغانانو ضدیت، د واک انحصار او د پیاوړي، غیر سیاسي او ناپییلي دفاعي او امنیتي ځواک نه شتون، د واک پر سر شخړو کې ونډه درلوده.
ځواب ویونکي زیاتوي، چې له شخړو، سیالیو او نیابتي جګړو څخه ډکه سیمه کې د افغانستان موقعیت، د افغانانو لپاره سرخوږی دی. ځکه افغانستان په داسې سیمه کې پروت دی، چې د سیمه ییزو او نړیوالو لوبو، سیالیو او شخړو لپاره مناسبه جغرافیا ده. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خپل ځانګړي سیمه ییز موقعیت څخه زیانمن شوی دی. ځواب ویونکي په دې اند دي، چې د پیاوړي او مشروع دولت جوړیدل، په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت له رامنځته کولو ډډه، د سیمه ایزو بنسټونو له امتیازونو څخه ګټه اخیستل او له سیمه ایزو خنډونو څخه د اقتصادي فرصتونو پر لور ګټه اخیستل به د دې لامل شي، څو افغانستان له سیمه ایزو سیالیو او شخړو څخه خوندي پاتې شي.
د ځواب ویونکیو په اند؛ د واک پر سر شخړو کې د قوم، ژبې او سمت کارول د اږودمهاله منازعاتو، قبیله یي ژوند، د قومونو جلا والی، جغرافیایي لاملونه او د قومي مخورو ناسمي سیالی لامل شوي دي. ځواب ویونکي وړاندیز کوي، چې متوازن پرمختګ او د کلیو او د هېواد لیري پرتو سیمو کې د خلکو ستونزو څیړل، د شرعي زده کړو پراختیا، دیني بنسټونو لپاره پرمختللي او تائید شوي نصاب جوړول، د فقهي عالي شورا او دارالافتاء جوړیدل، د دیني روڼتیا دودول او د ټولنې د اړتیاوو پر بنسټ د پوهنیز او ښوونیز نظام معیاري کیدل کولای شي، چې د بنسټ پالنې او قومي، ژبني او سمتي مسائلو کارول له منځه یوسي او خلک روښانتیا او منځنې برداشتونو ته یوسي.

ځواب ویونکي وایي، چې هغوی د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو ناستو کې د جرګو له غړیو او ګډونوالو سره ژمنه کړې وه، چې د هغوی غوښتنې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا متحده ایالتونو او د هغوی ملګرو هېوادونو سره شریکوي. په دې توګه موږ د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي سره ناسته وکړه، څو د نوي نسل او ځوانانو پیغام ورته ورسوو.

له بلې خوا مرکه شوي د نوي نسل او ځوانانو له انده د افغانستان د سولې راتلونکي په تړاو وایي، چې په هېواد کې د وروستي لوی سیاسي بدلون په رڼا کې دوه سناریو ګانو د پلي کولو وړ دي:

**لومړی سناریو،** که اسلامي امارت/طالبانو اړخ غواړي، چې په افغانستان کې تل پاتې سولې او ثبات ته ورسېږي، نو باید له نورو افغان اړخونو سره د تل پاتې ثبات ټینګښت لپاره د سولې خبرو یوه با صلاحیته شورا او کمپسیون جوړ کړي.

د طالبانو اړخ له نورو اغېزناکو ملي خوځښتونو، ښځو، نوي نسل او ځوانانو سره په مشورې د ملي پخلاینې، سولې او د یوه ټول ګډونه دولت د رامنځته کولو نوښت تر لاس لاندې ونیسي. د وګړو حقونه، د ښځو حقونه، د وینا خپلواکي او د افغانانو د نظر څرګندولو حق ته درناوی وکړي او ملي انسجام او په واحده توګه د ملت جوړونې لپاره دې زیاته زمینه برابره کړي. په شرعي چارو کې دې له زور زیاتي تېر شي، په دوامداره توګه دې د نړیوال سیاست له غوښتنو سره سم عمل وکړي. د حکومتوالۍ په برخه کې دې شوي نړیوال تړونونه او میثاقونه ومني. د طالبانو اسلامي تحریک دې د ټاکنیزې سیاسي او سوله ایزې لوبې قاعدې ته ژمن پاتې شي. د خلکو د رایو پر بنسټ دې نظام جوړ او له ټولو خوځښتونو سره په مشورې دې، د اساسي قانون پر جوړېدو ژر تر ژره کار پیل کړي. که دغه نوښت تر لاس لاندې و نه نیول شي، نو افغانستان به یو وار له سختو او جدي ستونزو سره مخ شي.

د مرکه شویو په باور که افغانان غواړي، چې افغانستان ثبات ته ورسېږي، نو د سولې نیمګړې پاتې بهیر باید په ښه توګه بیاځلي پیل شي. اوس هم د سولې بحث دوام لري او موږ باید سولې غوښتنې ته د یوې ملي داعیې په توګه دوام ورکړو. که د سولې بهیر او په ځانګړې توګه سیاسي سوله بشپړه نه شي، نو ثبات ته هېڅکله نه شو رسیدلی.

**دویمه سناریو،** د مرکه شویو کسانو په نظر، که طالبان چیرې فکر کوي، چې افغانستان یې په زور نیولی او هر څه یې، چې زړه غواړي کوي یې، نو دا ډول فرضیه د سولې او ټیکاو لاره نه ده. تاریخ ښودلې، چې په افغانستان کې د زور له لارې حکومت دوام نه کوي؛ لکه څنګه چې د کمونیستانو حکومت او مطلقه جمهوریتونو دوام و نه موند او د امریکا په ګډون ناټو پر خپلو ټولو امکاناتو سربېره هم له ننګونو سره مخ شو.

مرکه شوي زیاتوي، د جګړې له لارې واک ته د رسېدو او یا هم له دې لارې د واک لېږدول، د هېواد او خلکو لپاره وېجاړې او تباهي له ځان سره لرلې دي او په راتلونکې کې به یې هم ولري. اوس طالبان په یوه داسې ځای کې دي چې خلک ترې کار، ډوډۍ، امنیت، عدالت، مشارکت، پراختیا او د هوساینې خدمتونه غواړي. بل خوا افغانستان یوازې طالب نه دی، بېلابېل خوځښتونه په کې شته، بېلابېل قومونه په کې ژوند کوي او بېلابېل فکرونه په کې شتون لري. که په دې خاطر یوه ښه او غوره لار ونه لټول شي، نو په افغانستان کې به ناکامې تجربې بیا تکرار شي.

## ۰۷ پایله

د «د افغانستان منازعه او پخلاینه؛ د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه» د هغه پوښتنو د ځوابولو په لټه کې وه، چې د څېړنې مسئلې په برخه کې مطرح شوې وو. د دې څېړنې موندنې، چې د جرګو او سولې غوښتلو له پرېکړه لیکونو او د اړیکو ډلې او جرګې د مشرتابه له یو شمېر غړیو څخه د ګروپې مرکو له لارې ترلاسه شوې، په لاندې ډول دي:

١) د خبرو اترو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو حل، د سولې خبرو او مذاکراتو او د ملي پخلاینې د نوي بهیر پیلولو، د هر اړخیزې لارې پر نقشې هوکړې، او په دایمي ډول د جګړې پایته رسولو او د نورو اغېزناکو افغان اړخونو سره د نوي اساسي قانون د تسوید او تصویب د څرنګوالي په اړه هوکړې سره د با ثباته سیاسي راتلونکي لپاره د اسلامي امارت (د طالبانو اړخ) لخوا د عملي، ریښتیني او ژمنو ګامونو اوچتیدل.

٢) یوې لویې سیاسي هوکړې ته د رسېدو لپاره د اسلامي امارت (د طالبانو اړخ) او نورو اغېزناکه افغان اړخونو لخوا د ځان غوښتنې او د واک له انحصار څخه ډډه، نرمښت او ملت ته ځواب ورکونه.

٣) د ټاکنیزې او عدم تشدد سیاسي لوبې پر قاعده ولاړ د ټولو سیاسي اړخونو هوکړه او ژمنه.

٤) د سیاسي جوړښت او حکومتوالي د ډول تعریف او د عادلانه قوانینو د تصویب او پلي کېدو پر بنسټ د دولت په سیاسي واک او پرېکړو کې د ټولو قومونو اغېزمن ګډون تعریف او ورته زمینه برابرول.

٥) د ولسواکۍ بهیر ساتنه او پلي کول او د ټاکنو له لارې د سیاسي واک تر لاسه کول، ټاکل شوی دولت (چې هم ملي او هم دیني مشروعیت ولري) ټاکل شوي او ځواب ویونکي رهبران، د دولت د ارکانو تعریف او د قواوو تفکیک، د سراسري او عادلانه ټاکنو ترسره کول او د هیواد سترو او برخلیک ټاکونکیو مسایلو کې د ملت غوښتنو او رایو ته مراجعه کول.

٦) د ملي او ګډو ارزښتونو تعریف او درناوی، همپالنه، د یو بل فکري، سیاسي، کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو او توپیرونو ته د ټولو قومونو او خوځښتونو درناوی او د یو با ثباته او پرمختللي افغانستان لپاره هڅه.

٧) په افغانستان کې د مذهبونو د پیروانو وروړولي او یووالی په سیمه کې ساری نه لري او نه بېلېدونکی دی. په دې توګه د حنفي مذهب او اهل سنت ترڅنګ د جعفریه مذهب او اهل تشیع هم باید د هیواد د رسمي مذهب په توګه وساتل شي او درناوی یې وشي.

٨) په شرعي چارو کې د اعتدال ساتنه، له جبر څخه ډډه کول او د افراط او تفریط مخنیوی.

٩) د عادلانه قوانینو په چوکاټ کې د مطبوعاتو، رسنیو او د بیان خپلواکي ساتنه او پراختیا، معلوماتو ته د لاسرسي حق، د ټولنیزو، مدني، سیاسي خپلواکیو ساتل او د افغانستان ټولو وګړیو ته د سوليیز اعتراض حق ورکول.

١٠) د ښځو د بنسټیزو حقونو او ازادیو (زده کړه، ښوونه، کار، په سیاسي، مدني، ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري او نظامي برخو کې اغېزمن ګډون) ملاتړ او ساتنه.

١١) د ملي بهیرونو په پرېکړو کې د اغېزناکه اړخ په توګه د نوي نسل او ځوانانو ګډون او مشارکت.

۱۲) د افغانستان مسایلو په تړاو په سیاسي پریکړو کې د ښکیلو او پورته یادو شویو دریو محورو ځخه بهر، په ملي ناستو او پریکړو کې او په نړیوالو ناستو او غونډو کې د نوي نسل او ځوانانو سیاسي ګډون او مشارکت.

۱۳) له هر ډول توپیري چلند پرته، په افغانستان کې د څو لسیزو منازعاتو له امله د جګړو د قربانیانو، د شهیدانو د وارثینو او معلولیت لرونکیو وګړیو د حقونو ساتنه او د هغوی د ستونزو حل.

۱٤) د غیر سیاسي او ناپییلي امنیتي او دفاعي ځواکونو، استخباراتي او اطلاعاتي ادارو او مسلکي ژمن پولیسو جوړول.

۱٥) د فرهنګي او هنري فعالیتونو د محدودولو او منعه کولو څخه ډډه او د افغانستان د فرهنګي، هنري او لرغوني شمتنی ساتنه.

۱٦) د ملي ګټو پر بنسټ له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د دوستانه اړیکو ساتل، دوام، پراختیا او جوړول.

۱۷) په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت رامنځته کولو څخه ډډه او د سیمې او نړۍ هېوادونو په شخړو، منفي سیالیو، وسله والو او استخباراتي جګړو کې ناپییلي.

۱۸) د افغانستان له خلکو، ښځو او نوي نسل او ځوانانو څخه د ملګرو ملتونو په ځانګړې ډول د امنیت شورا او نورو نړیوالو بنسټونو غوخ ملاتړ.

۱۹) د نړیوالو د مالي ملاتړ دوام او تلپاتي سولې او ثبات ته د رسېدو په لار کې د افغانستان له خلکو سره د نړیوالې ټولنې جدي او ریښتینې همکاري.

په پای کې؛ افغانستان به هغه وخت د سولې او ثبات پر خوا رهي شي، چې د سولې نوښت بیاځلي تر لاس لاندې ونیول شي او په افغانستان کې د منازعاتو د ټولو اړخونو د هوکړې پر بنسټ ټول ګډونه نظام جوړ شي. څو په دې ډول جګړه او د واک پر سر شخړو ته د پای ټکی کېښودل شي. د یوې سیاسي هوکړې په پایله کې پیاوړی دولت او ملي نظام جوړ شي. د میکانیزم په جوړولو سره دې په پریکړو او واک کې د ګډون مسئله حل شي. ټول اړخونه باید د فزیکي تاوتریخوالي (وسله والو جګړو) څخه لاس په سر شي، په بل ډول په هیواد کې د جګړې تېغر باید را ټول شي او سیاسي مبارزه، چې د یوې سیاسي ټولنې بنسټ دی، په سوله ییز ډول او له تاوتریخوالي پرته په هیواد کې ترسره شي. په پای کې د کورنیو ستونزو په حل او د یو پیاوړي ملي دولت په جوړېدو، د نړیوال مشروعیت او له ګاونډیو، سیمې او د نړۍ له هیوادونو سره دوستانه اړیکو لپاره زمینه برابرېږي.

د افغانستان د سولې راتلونکی، د سولې بهیر پر مخ وړونکیو کې بدلون ته اړتیا لري، چې د سولې سنتي او دودیزو فعالیتونو، چوکاټ او پر مخ وړونکیو څخه، چې مره ډیپلوماسي یې جوړه کړې، ور هاخوا لاړ شي.

د ټولنې ټولې برخې باید د سولې په ټینګښت کې برخه واخلي. په دې توګه د لوړپوړو افرادو یعنې مخکښ او لومړۍ درجه رهبرانو؛ د قدرت ترېو او په منازعاتو کې ښکېل اړخونو په پرتله د ټولنې منځنۍ برخه ( نوی نسل او ځوانان او نوي را ټوکېدلي خیرې) زیات رول ولوبوي. په دې برخه کې نه یوازې په بیړې د مناز عاتو د حل مسئله (د واک ویش) شامل نه وي، بلکې د هغو اندېښنو حل کول هم شامل وي، چې وسله والو منازعاتو او د واک پر سر شخړو ته د بیا ستنېدو لامل کیږي.

## ۸. وړاندیزونه

### ۸،۱. د سیاسي لارې نقشه

په وروستۍ نیمه پیړۍ کې افغانستان د واک پر سر شخړو سره لاس او ګرېوان وو. له همدې امله دولتونه په لنډو وختونو کې رامنځته او له منځه تللي دي. کله یوه جګړه پای ته رســیږي او بله جګړه پیلیږي. ټول افغان اړخونه د یو مشروع نظام، سیاسي جوړښت، د هیواد په ټولو ملي او لویو مسـائلو کې د ټول ګډونه میکانیزم او د دولت والی او حکومتوالی ډول په اړه، چې ټول منلی وي، هوکړې ته نه دي رسیدلي. په افغانستان کې د څو لسیزو منازعاتو د پایته رسولو په موخه د اسلامي امارت (د طالبانو اړخ) او نورو افغان اغیزناکو اړخونو ( جهادي تنظیمونه او رهبران، په وروســتیو دوه لســیزو کې په واک کې شــامل ټکنوکراټان، ښــځې او د افغانســتان نوی نسـل او ځوانان)، د یو ټاکنیز نظام، چې هم ملي او هم دیني مشـروعیت ولري او ټول اړخونو پرې هوکړه ولري او هیڅ اړخ خپلې غوښـتنې په بل لوري و نه تپي، لپاره د مذاکراتو او سـیاسـي هوکړې له لارې د ملي پخلاینې او د منازعاتو د حل په موخه عملي او ریښتینې ګامونه پورته کړي. تواضع، تساهل، یو بل منلو او ډول ډول افکارو منل په پام کې ونیول شي، منازعات دې د خبرو اترو او سیاسي هوکړو له لارې حل شــي او په پای کې ســیاســي واک ته د رســېدو لپاره باید په ســولییز ډول او له تاوتریخوالي پرته، چې په افغانستان کې تلپاتې او دایمي سوله تضمینوي، واضح شي او په لاندې ډول د سیاسي لارې نقشه روښانه او (۱ نه تر ۵ کلونو) کې عملي شي:

- د طالبانو اړخ او د افغانسـتان نور اغیزناکه سیاسـي اړخونه یو ځلي او د تل لپاره د جګړې پر پایته رسـیدو او تل پاتې سـولې ټینګښـت لپاره پریکړه وکړي. ټول اړخونه باید په افغانسـتان کې د واک سـتونزې د حل لپاره د غوښ، هر اړخیزې او جدي خبرو لپاره چمتو شــي. د همدې موخې لپاره، د طالبانو اړخ د افغانستان له نورو سیاسي اړخونو او د افغانستان نور سیاسي اړخونه له طالبانو سره، په افغانستان او بهر (په افغانستان کې د سولې او ټیکاو ملاتړي هېوادونه؛ ګاونډیان، سیمه او نړۍ) کې د خبرو او باور جوړونې ډیالوګ د پیل لپاره ګامونه اوچت کړي.

نو په دې ډول، د ملګرو ملتونو سازمان، په نړۍ کې د سولې ملاتړي نړیوال بنسټونه، په افغانستان کې د تل پاتې ســولې او ټیکاو ملاتړي هېوادونه او په افغانســتان کې د ســوله پالو او منځګړیو شخصیتونو ډله، د دې خبرو لپاره اسانتیا او زمینه برابره کړي.

- د ملګرو ملتونو په مرسته او تر څار لاندې له نورو افغان اړخونو سره د اسلامي امارت لخوا د نوي بين الافغاني مذاکراتو پيل.
- د ټول ګډونه حکومت (تر ټاکنو پورې د يوې مشخصې مودې لپاره د سرپرست/ لنډمهاله/ انتقالي په نوم حکومت) جوړيدل، چې په کې د قومونو، اړخونو او د نوي نسل او ځوانانو او نوېو ځېرو په ګډون د سياسي لوريو اغيزناکه ګډون او ونده په پام کې ونيول شي.
- د اړخونو د هوکړې پر بنسټ د لويې جرګې د جوړولو کميسيون رامنځته کول.
- د ټول ګډونه حکومت د تائيد او د اساسي قانون د تسويد ملي کميسيون د جوړولو لپاره د منلو وړ لويې جرګې جوړول.
- د منلو وړ لويې جرګې، ټول پوښتنې او يا هم د اسلامي امارت او نورو اغيزناکو افغان سياسي اړخونو لخوا د نورو منل شويو ميکانيزمونو له لارې د عادلانه اساسي قانون تصويب.
- د سراسري او عادلانه ټاکنو تر سره کول او د نوي اساسي قانون پر بنسټ د راتلونکي دولت جوړيدل.

## ۸,۲. سياسي جوړښت

د واک انحصار، د حکومتوالی سيستم متمرکز توب، د ټولنيز عدالت نه بنسټيزه کيدل، ناانډول پرمختګ، په ناعادلانه ډول د ملي بودجې ويش او له ملي شتمنيو څخه د ګټې اخيستنې څرنګوالی، په سياسي واک او د دولت په پريکړو کې د قومونو عادلانه او اغېزمن ګډون کمزورتيا ټل د دې لامل شوی دی، چې نور اړخونه هڅه وکړي، څو په بيلابيلو حتی پوځي کچه کې له نړيوالو او بهرنيو سرچينو څخه تغذيه او واک ته د رسېدو لپاره ترې ګټه واخلي. بهرنی لاسوهني او کورنی بې عقلي د دې لامل شوی، څو د افغانستان د منازعاتو اړخونه د بهرنيانو لخوا په استخباراتي او سياسي برخو کې وکارول شي. په دې توګه د بې کفايته مشرانو شتون، د قومي رهبرانو له خوا د لړکيو او ډيرکيو پر روايتونو ټينګار، د حکومتونو د مشرتابه ځان غوښتنه، فساد او ناپوهي د واک د انحصار سبب او د افغانستان د منازعاتو له لاملونو څخه يو دی. نو د يو متحد، يو موټي او باثباته افغانستان لپاره د لاندې سياسي جوړښت چې په بيلابيلو نظامونو کې د پلي کيدو وړ دی، وړانديز کيږي:

۱ د دولت رئيس او مرستيالان 2 لومړی وزير او مرستيالان 3 ملي شورا ۴ د فقهي او دارالافتاء عالي شورا ۵ د ستړې محکمې عالي شورا 6 واليان 7 ښاروالی 8 ولايتي شوراګانې 9 د ولسواليو شوراګانې او 10 ولسوالان، په ټاکنيز ډول په اساسي قانون کې د روښانه واکونو په لرلو سره، د افغانستان د خلکو لخوا په مستقيمي يا غير مستقيمي رايې سره وټاکل شي.

## ۸,۳. سياسي واک ترلاسه کولو څرنګوالی

سياسي واک ترلاسه کولو لپاره، د طالبانو اسلامي تحريک او د افغانستان اغېزناکه سياسي محورونه دې د ټاکنيزې لوبې پر قاعده هوکړه وکړي. افغانان د ټاکنو له لارې د واک ترلاسه کولو پرته بل منل شوی اصل، چې په هيواد کې

کې تلپاتې سوله او ټيکاو تضمين کړي، نه لري. په دې توګه ټاکني دې د يو اصل په توګه د ټولو اړخونو لخوا ومنل شي او واک ترلاسه کولو لپاره سياسي مبارزه دې د قانون په چوکاټ کې د سياسي ګوندونو له لارې ترسره شي، نه د افرادو لخوا.

## ۸,٤. متوازن پرمختګ او په عادلانه ډول د ملي شتمنيو څخه ګټه اخيستل

ملي شــتمني؛ د ځمکې لاندې ســرچينې، اوبه، ځمکه، لرغوني او کلتوري اثار، دولتي بنســټونه، انســاني سرچينې او د دولت مالي عوايد د افغانستان د خلکو له عامه ملکيتونو او ګټو څخه ګڼل کيږي، چې د قانون په چوکاټ کې ورڅخه په عادلانه ډول ګټنه او ساتنه شي.

د ملي بودجې عادلانه ويش او په عادلانه ډول د ملي شــتمنيو د عوايدو کارول او له مرکز څخه ولايتونو ته د انډول پرمختګ لپاره؛ په داســـې ډول وي، چې د قانون په چوکاټ کې اړوند ولايتونه د هغې د لګولو بشـــپړ واک ولري.

## ۸,۵. فقهي او د دارالافتاء عالي شورا

د افغانستان خلک په شرعي او فقهي مسايلو کې له مختلفو ادرسونو څخه ګڼو روايتونو او تعريفونو په منځ کې راګير دي. په افغانســتان کې د موجوده شــرايطو په پام کې نيولو ســره، شــرعي او فقهي فتواوو عالمان او پوهان دې د افغانستان خلکو ته اړينې لارښووني او مشورې په واک کې ورکړي. نو په دې ډول په افغانستان کې د فقهي او دارالافتاء د عالي شـــورا د جوړولو لپاره اړتيا ده، چې د واکونو، فعاليتونو او جوړښـــت په اړه يې په اساسي قانون کې وړاندوينه شوې وي.

## ۸,٦. له ګاونډيو، سيمې او نړۍ سره اړيکې

افغانستان له جغرافياوي پلوه د سيمې او نړۍ د شخړو او سياليو په ډکه سيمه کې پروت دی. بې له شکه، دا مسئله د افغانستان په کورنيو منازعاتو بې اغېزې نه وه او نه ده. افغانستان اړتيا لري، چې په خپلو بهرنيو اړيکو کې د حساسيت پيداکولو څخه ډډه وکړي او بايد د سيمې او نړۍ په ترينګلتياوو، منفي سياليو، پوځي او استخباراتي جګړو کې خپل بې پريتوب وساتي. افغانستان يوې فعاله او تخصصي ډيپلوماتيکې دستګاه ته اړتيا لري او د ملي، سيمه ييزو او نړيوالو لومړيتوبونو په پام کې نيولو ســره خپل بهرنۍ ســياســت روښــانه تعريف کړي.

په سوله کې افغانستان نشی کولای له خپلو ګاونډيو جلا وي او نشي کولای د سيمې هېوادونه څنډې ته کړي. نو په دې ډول موږ اړتيا لرو، څو د ګاونډيو هېوادونو؛ چين، پاکســـتان، ايران، ازبکســـتان، ترکمنســـتان او تاجکســتان ســره د دواړو اړخونو د ګټو پر بنســټ، هر اړخيز بهرنۍ ســياســت ولرو. د هم پالنې، ســيمه ييزو اقتصــادي فرصــتونو د کارولو او دوســتانه اړيکو رامنځته کولو لپاره هڅه شــوې او د افغانســتان او ګاونډيو هېوادونو په ځانګړي ډول پاکستان سره د شخړو کميدو لپاره اړين ګامونه اوچت شي؛ خو دا ګامونه بايد داسې وي، چې د سيمې هېوادونه په ځانګړي ډول هندوستان را و نه پارول شي. همدارنګه افغانستان له چين سره د اړيکو لپاره ځانګړې پاليسي ته اړتيا لري.

افغانستان له چین سره په اړیکو کې کولای شي، څو له اقتصادي، ترانزیتي او له نښلونکیو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

افغانستان باید په سیمه کې په یو پیاوړي لوبغاړي بدل شي. له سیمې او نړۍ سره د مثبتو او اقتصادي تعاملاتو کې د افغانستان له موقعیت او جغرافیا څخه ګټه واخیستل شي، خو هیڅ وخت د تقابل سیاست غوره نه شي. زیاتې سرچینې باید د ګاونډیو، سیمې او سیمې ها خوا هېوادونو؛ روسیه، هندوستان، جاپان او عربستان، ترکیه، مصر، عربي متحده امارات، قطر او نورو اسلامي هېوادونو سره په اړیکو کې وکارول شي او د ملي ګټو پر بنسټ، پراخه او پرمختللې اړیکې رامنځته شي.

افغانستان باید هڅه وکړي، څو په نړۍ کې یې ملګري هېوادونه زیات شي. افغانستان اوس مهال هم د امریکا متحده ایالتونو او د هغه ملګري هېوادونه؛ بریتانیا، کاناډا، استرالیا، د اروپایي ټولنې هېوادونه په ځانګړي ډول جرمني، فرانسه او ایټالیا سره د ستراتیژیکو او ښو اړیکو درلودو ته اړتیا لري. د امریکا متحده ایالتونو سره د ښو او ستراتیژیکو اړیکو لرل یوه پانګه او فرصت دی. نو افغانستان باید د نوي پیژند پر بنسټ، له دې هېوادونو په ځانګړي ډول امریکا متحده ایالتونو سره ښې او ستراتیژیکې اړیکې ولري، خپلې اقتصادي او مالي اړتیاوې پوره، نړیوال باور پراخ او د نړیوالو بنسټونو له فرصتونو او امتیازاتو څخه هم ګټه واخلي.